# ”د پښتونخوا د شعر هار و بهار“ د سريزي
# په باب توضيحات

د فرانسې د نوميالي پوه ډارمستتر داګټوره ليکنه چي د ده د ارزښتناك کتاب "د پښتونخوا د شعر هار و بهار" په سريزه کي راغلې اتيا کاله پخوا وه چي هغه وخت د پښتو ادب د ګوتو تر شمېر پرته آثار نه وو پېژندل سوي.

د اروپا درنو څېړونکو لکه دورن، راورټي، بيليو، ډارمستتر او نورو چي لومړی ځل يې پښتو مطالعه کړې ده د شيخ ملي يوسفزي نامتو مقنن او مصلح او د ده د جانشين کجو خان (چي له بده مرغه دواړه آثار ورك دي)، پير روښان، اخوند درويزه، خوشحال خان، ميرزا انصاري تر آثارو پرته د پښتو نور لرغوني آثار نه پېژندل او له دې څخه يې د بايزيد روښان "خيرالبيان" هم نه و ليدلی.

په وروستيو اتيا کلو کي د پښتو ادب د تاريخ په پرمختيا کي پلټنې وسوې چي تاريخ يې له نمونو او پاړکو سره تر زرو کلو اوړي او دوهمي هجري پېړۍ ته رسيږي. په دې پاړکو کي حماسي، د خدای ستايني، نعتونه، مدحيه بوللې، د مينې سندري، اخلاقي، ديني او اجتماعي مسايل، تاريخ وقايع او نور سته چي د پاړکو او سندرو ډولونه تر سلګونو اوړي او د پښتو ادب د لمني پراخوالی په ډېر قوت او جامعيت سره ښيي. چي زموږ درانه لوستونکي "پښتانه شعراء" د ۱۳۲۰ کال چاپ، "د پښتو ادبياتو تاريخ" دوه ټوکه د ۱۳۲۵ _ ۱۳۴۲ کلو چاپ، "پټه خزانه" لومړی چاپ ۱۳۲۳، دوهم چاپ ۱۳۳۹، دريم چاپ ۱۳۵٤ او د نورو هغو کتابو او مقالو لوستني ته رابولو چي په دې ۳٦ وروستيو کلو کي خپاره سوي دي. دلته د دې سريزي د ځينو برخو د سمون له پاره لاندني توضيحات وړاندي کوم چي محترم لوستونکي ورته متوجه اوسي :

(۱) په لومړۍ برخه کي يې د پير روښان د مړيني کال "د هند ژبي" د کتاب د ليکونکي ګريرسن په پيروۍ (۹۹٤ ق ۱۵۸۵ م) ښوولی دی چي دا غلطي د "دبستان مذاهب" له غلطي لوستني څخه راولاړه سوې ده.

د هغو څېړنو له مخي چي د پير روښان د معاصرو مؤرخينو د ليکنو په سند مو کړې دي ښايي د ده د مړيني کال د (۹۸۰ ق _ ۱۵۷۲ ع) کال په شاوخوا کي وي.

(۲) د پير روښان او د ده د کتاب "خيرالبيان" په باب چي کوم ابهام و اوس د لوبديځ المان د ټيوبنګن په کتابتون کي د دې کتاب د يوازينۍ خطي نسخې په موندل کېدلو او په ۱۳۵۳ کال په کابل کي له سريزو او بشپړو ضميمو سره د دې نسخې د عکسي چاپ په تر سره کېدلو سره له مينځه ولاړ.

پر دې سربېره د ارزاني، ميرزا انصاري او واصل دېوانونه او د شعر مجموعې او هم پير روښان ته منسوبه يوه رساله اوس چاپ سوي دي او د زياتو روښانيانو افکار او احوال اوس تر پخوا روښانه سوي دي.

(۳) د اخوند درويزه د کتاب په برخه کي تېروتنه سوې، ځکه "مخزن اسلام" په پښتو ژبه د اخوند درويزه تأليف دی چي ديني احکام، د روښاني فرقې رد او ځيني مذهبي او اخلاقي مطالب لري.

خو "مخزن افغاني" د نعمت الله هروي ساماني تأليف دی چي د (۱۰۱۸ ق) کال په شاوخوا کي په دري کښل سوی او د پښتنو سياسي تاريخ او انساب څېړي چي په (۱۹٦۰ _ ۱۹٦۲ ع) کال د ډاکې د ايشياټك سوسايټي له خوا خپور سوی دی. دا دواړه کتابونه بايد سره ګډ نه کړای سي.

(٤) د "تاريخ مرصع"کتاب د پښتو نثر له ښکلو آثارو څخه دی، خو مؤلف يې لکه څرنګه چې ډار مستتر ليکي د خوشحال خان زوی نه بلکي لمسی دی. افضل خان د اشرف خان زوی د خوشحال خان ختک لمسی چې تر خوشحال خان شل کاله وروسته د توري او واکمنۍ په
ساحه کي د ده پر ځای ناست و اوکتاب يې "تاريخ مرصع" په پښتو
ژبه د پښتو لرغونی تاريخ و چې د ده تر وخته د يوولسمي پېړۍ تر
نيمايي پوري رارسېده او په (١٩٧٤ ع) کال په پېښورکي د ښاغلي دوست محمد کامل په اهتمام او تعليقاتو تر (١٥٠٠) زياتو مخونوکي خپور
سوی دی.

(٥) کومي خبري چې د خلکو د سندرو په باب ليکوال کړي دي، د دې سندرو د اصالت ګټورتوب او جامعيت په باب يوه کوچنۍ يادونه ده او ښايي د دې سندرو په موضوعاتو، ډولونو، بحرونو او وزنونو مفصلي څېړني وسي. همدا رازکومي نمونې چې فقيد مؤلف راغونډې کړي د وخت له مغتنماتو څخه دي ځکه د ادب دا ډول ډېري ځلېدونکي مرغلري د هېرېدلو په خاوروکي ورکي سوي دي.

د خلکو دا سندري رښتيا هم د پښتو د اجتماعي، عقيدوي او روحي احوالو او افکارو ښکاره کوونکي، د دوی د ژوندانه د حقايقو څرګندوونکي او ځلېدونکي هينداري دي چې د پښتنو د اجتماعي او سياسي تاريخ په باب زيات مواد پکښي موندلای سو او مهمي تاريخي پېښي يې خوندي کړي دي.

فقيد مؤلف وايي چې : د خلکو د دې ډول سندرو شاعران نسلاً پښتانه او د دوی سيالان نه دي او د دوی له طبقې څخه نه ګڼل کېږي. خو دا حکم د ټولو په باب سم نه دی، ځکه مؤلف افغانستان ته نه دی راغلی څو د ټولو افغاني تبرونو عمومي اوضا ع له نژدې څخه وګوري. په کندهارکي د خلکو دا شاعران په خپله د قبيلې له غړو څخه له دوی سره سم او د دوی سيالان دي او ما په خپله په خپل اويا کلن ژوند کي دا ډول ډېر شاعران ليدلي دي چې په اصل کي د پښتنو له اصيلو قبيلو څخه دي او اوس هم په ټولو پښتنو ژبو خلکوکي له هرات او فراه نه نيولې بيا ترکونړ او سوات پوري داسي شاعران په خپله د قبيلو له افرادو څخه ژوندي دي چې د نورو افرادو سره سيالان دي او په جنګي، دفاعي او د بزګرۍ په چاروکي ګډه برخه ورسره لري.

(٦) دا چې د ډم = ډوم کلمه يې له هندي ريښې څخه بللې د باور وړ نه ده، ځکه دا کلمه هم هغه وخت چې شيخ ملي خپل دفتر د اجتماعي بزګري اوکليوالي قوانينو په باب ترتيباوه او يوسفزائيان نوي د پېښور مردان او سوات سيمو ته راغلي اوکليوالي ژوند يې غوره کړی و، موجوده وه او د ډال له زورکي ويله کېده نه تر واو وړاندي په معروف پېښ. چې دا سم وينګ يې لا تر اوسه هم د ارغنداو او هلمند په سيموکي په اصلي بڼه پاته دی. دا د پښتو اصيله کلمه ده چې ريښې يې هم څرګندي دي، اصلاً د ډم ړغ نوم د ډول او دې ته ورته ړغ ته ويل کېده څرنګه چې په قبيلوي جوړښت کي ډول وهونکی د خبروونکي، د جنګ د منادي، دکاروان د لاړښود او د جرګې د راغوښتونکي په توګه مهم مقام درلود او د شيخ ملي په دفترکي يې د کرني په ګټهو محصولاتوکي لکه د معلم او دکلي د جومات د ملا غوندي لويه برخه وړله نو ځکه هماغه د ډول له ړغ څخه په فاعل باندي د فعل د يوه مظهر د نوم اېښودلو په اساس دا نوم کښېښودل سو او دا طبقه يې هم د "ډم" د "ډ" په زورکي وبلله، چې مؤنث يې "ډمه" او جمع يې "ډمان" او "ډمي" سوه. څرنګه چې دکلي آشپزي، سر خرييل او نور اجتماعي خدمتونه يې هم پر غاړه ولوېدل نو ښځو يې هم د قبيلې د نجونو سينګارولو ته لاس اوږدکړ چې "ډمه" ادب ته هم ور ننوته او د سينګاروونکي (مشاطې) معنی يې ومونده، يوه شاعر وويل :

ډمي ګوتي په وښتانوکي په ورو وړه !
په هر ول کي دکـــــوڅيو زمـا زړه دی !

له دې ريښې څخه "ډمبك" او "ډمامه" راووته چې د ډول له ډولو څخه دي او په ريښه كي د پهلوي له "ډمبلك" او د دري له "دمبك" سره يو دي (فرهنګ فارسي به پهلوي ١٦٩ مخ) په دې برخه كي بايد "دمدمه" د "زمزمه" په وزن د ډول په معنى (برهان قاطع ٨٧٩) او "دمامه" يعني نفير او نغاره (برهان ٨٧٧) په دري ادب كي هم هېر نه كړو، سره له دې چې ډمو په پښتو كي "د ډول په ږغ د راټولو سوو خلكو ډله" په معنى هېره سوې كلمه ده.

ابن خردازبه (٢٥٠ ق) د هندي قبيلو په ډله كي "ذنب" كښلی چي هنديان يې "ډوم" بولي او كار يې مطربي او ساز ږغول دي (٧٠ مخ) څرنګه چي د دې كلمې ريښې په آريايي ژبو كي سته او پښتو هم له دې ډلي څخه ده نو ځكه د پښتو ډم د هندي ژبي له ريښو څخه نه سو بللای او په دې برخه كي مي د "تاريخ تلفظ و صرف زبان پښتو" د كتاب لومړي تعليق كي شرح كښلې ده، هلته يې وګورئ. دا كتاب د پښتو پوهو ختيځ پوهانو اثر دی چي دكتور روان فرهادي په دري ژبه ژباړلی دی.

(٧) فقيد مؤلف د تاريخي اشعارو لرغوني نمونې د ګوركاني اكبر او احمدشاه بابا له وخته او تر هغه را وروسته موندلي دي سره له دې چي ما په لومړي ټوك "پښتانه شعراء" او په دوهم ټوك "د پښتو ادبياتو تاريخ" كي د اسلامي دورې د اوايلو او د غزنويانو د دورې يعني د وروستيو زروكلو د مودې زياتي نمونې موندلي او خپرې كړي دي. خو د ډېري خواشينۍ او افسوس ځای دی چي د پښتو ډېر كتابونه په نامه پېژنو چي د زمانې ناوړو زمو له لاسه ايستلي دي او اوس ـ اوس د ملا نور محمد غلجي د نافع المسلمين يوازينۍ نسخه د اطلاعاتو او كلتور په خطي كتابتون كي تر لاسه سوه چي موږ په پټه خزانه كي د يادو سوو كتابو له ډلي څخه وركه بلله او د (١١٣٥ هـ ق) كال په شاوخوا كي په كندهار كي د شاه حسين هوتك په نامه نظم سوې ده او په همدې ډول د قرآن كريم هغه خطي تفسير دی چي عصام الدين احمد د عزيز الله كندهاري زوی په همدې عصر كي كښلی دی (د خطي كتابتون خطي نسخه) او بل د ياد سوي افضل خان خټك خطي تفسير دی (د ١١٢٠ ق په حدودو كي) چي نوی پېژندل كېږي او تر دې وړاندي مو نه و ليدلی.[1]

[1] د پښونخوا د شعر هار و بهار، د ١٣٥٦ ل كال چاپ (دريم چاپ) ٣٨ ـ ٤٤ مخونه.